مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۸/۰۸

# مـوږ خـپـلـه دي کنلي، يـو او بـل تـه دوزخـونـه

پـخـپـلـه اجـازه نـه دي بـل شـوي دا اورونـه
مـوږ خـپـلـه دي کنلي، يـو او بـل تـه دوزخـونـه

چې نه ومه هم ومه او که نه يمه هم يم به
راکړې خدای هستي ده له ژوندونه تر ژوندونه

مرګـی تـغـيـر د شکل دی پـدې نـه فـنـا کـېږم
چې هلته نوی هست شم دلـتـه و درېږي نبضونه

راتېر شـه د کـيـنـي کـرکـې او کـبـر لـه صراطه
ولا چې پـه هـمـدې دنيا ليدای شـې جـنـتـونـه

شعور او لاشعور ترمنځ ديوال د جهالت دی
څـه لږه فـاصـلـه ده لـه نبـوغـه تر جـنـونـه

سفر څـه عجـيـبـه دی له يزدانه تر يزدانه
بـاوره نتيجـه يې لـه سکـونـه تـر سکونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ